تر به په لاره د میړنو سره ځم
یمه پښتون د پښتنو سره ځم
خوځي راغونډ به یو مرکزي ته کړم
هره تپه ته د جرګو سره ځم
وائی اغیار چې د دوزخ ته به ځه
زه به جنت له د پښتنو سره ځم
"حمزه شنواری"


PSDP

لویدیځ جرمني

# پښتون

بنسټ ایښودونکی : باچا خان

ګڼه (۸)　کال ۱۹۹۰ ع　میاشت جنوري


د باچا خان د دوهم تلین په مناسبت خاصه خپرونه چې د PSDP له خوا د فرانکفورټ په ښار کښې لمانځل کیږي او په لویدیځ جرمني کښې ګڼ شمیر پښتنو ته بلنه ورکړل شوې ده.

لیکونکی: ستوری

## د باچا خان لنډه پېژند ګلوي

د باچا خان خپل نوم عبدالغفار خان دی او د پلار نوم ئې بهرام خان و چه د کلي خان او په مشرخان مشهور و. د باچا خان تعلق د محمدزي قبیلې سره دی. دی د خپلې ځینې یو دیتي په هکله داسې لیکي "زه د هشنغر په اتمانزو نومې کلي کښې په کال ۱۸۹۰ کښې پیدا شوی یم. هغه وخت د پیدائینې د نیټې د لیکلو رواج نه و او نه څوک په دې اولوستل پوهیدل. زما د پیدا کیدو نیټه چا لیکلې نه وه. خو دا چه زه وایم چه په کال ۱۸۹۰ ع کښې پیدا شوی یم ددې نه وایم چه خدای دې زما مور وبښي ماته ویل چه - ستا ورور ډاکتر خان صاحب واده و چه ته د یوولس کالو وې - او د ډاکتر خان صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ عیسوي کال کښې شوی و نو ځکه زه وایم چه زه په ۱۸۹۰ عیسوي کال کښې پیدا شوی یم. زه د مور او پلار کشر زوی وم. تر ټولو مشره زمونږ خور وه ورپسې ډاکتر خان صاحب او بیا بله خور وه او بیا زه وم" (عبدالغفار: زما ژوند او جدوجهد کابل ۱۹۸۳)



((باچا خان ۱۸۹۰-۱۹۸۸ عیسوي کال))

باچا خان تر پنځم ټولګي پورې د پېښور په ښوونځي او تر لسم ټولګي پورې د مشن په ښوونځي کښې سبق ویلی او بیا د علیګړه مدرسې کښې شامل شوی دی. په علیګړه کښې ورته سیاسي فکر پیدا شو بیرته کلي ته راغی او د انګریزي ښکیلاک (د استعمار) د جګړې د خلاصیدو لپاره په پښتنو کښې د ذهني او پښتون د انقلاب پیل په ۱۹۲۱ ع کال په اتمانزو کښې د یوه ازاد ملي ښوونځي (هائی سکول) جوړولو سره وکړ. دی لیکي چه زه ځکه چه دا کار دې ته شوی د لاسه پوره نه و نو مونږ یو جمعیت انجمن اصلاح الافاغنه په نامه جوړ کړ. د دې انجمن دوه مقصد کار ونه دي لور دل یو دا چې په پښتنو کښې د زده کړې او علم شوق پیدا کړي.



«د باچاخان د ځوانۍ یو عکس»

او بله دا چه د پښتنو له منځه دې رواجونه ورک کړي
نو خلکه مو په کلو او بانډو کښې دوره شي وعظ کړي». د باچاخان
دې کار د انګریزان شمت په تشویش کښې کړه او دې ئې درې
کاله په ۱۹۲۱ د دسمبر د میاشتې په ۱۷ نیټه (دفعه ۴۰ ف.س.ر.ي)
شمت بندي کړلو. او دا په دې غرض و چه ګویندي انجمن اصلاح
افغانه د منځه لاړ شي. خو انجمن اصلاح افغانه فعالیت
لا ښې پراخه شو او په ۱۹۲۳ کال کښې باچاخان ته قوم
د فخر افغان لقب ورکړو.

**د پښتون رساله:** د ۱۹۲۸ عیسوی کال د مئ میاشت
کښې باچاخان د پښتون رساله جاري کړه چه وروسته
د څو کمو ځلو لو بنده شوه وروسته بیا چه د پښتنو
د ځوانانو او لیکوالو ګوند له خوا د ۱۹۸۲ ع کال د مارچ
په میاشت کښې د باچاخان د پښتون رساله بیا چاپ شوه
او پښتونخوا کښې خپره شوه. تر ۱۹۸۳ عیسوی کال د
جون په میاشت کښې ضیاوالحق د رژیم له خوا ضبط شوه.
په ټولو پاکستانی ورځپاڼو کښې د ایي شاکتي بیان راغلی و
چې د پښتون جریده چه د مغربي جرمني پښتون ټولنې
د یموکراټیک ګوند له خوا خپرېږي د اعتراض وړ مواد و
د لرلو له کبله ضبط شوه.

**د سور پوښو غورځنګ (خدائي خدمتګار)!**

په ۱۹۲۹ عیسوی کال کښې باچاخان د سور پوښو غورځنګ (خدائي خدمتګارانو) بنسټ کېښود. هر څوک چه به د ی
غورځنګ کښې شاملیدو نو دا ژمنه به ئې کوله. (۱) زه خدای حاضر او ناظر ګڼم او د خدای شره د اوعده کوم چه
زه به خدائي خدمتګار یم. (۲) ځکه چه خدای ته د خدمت ضرورت نشته دی نو ځکه د مخلوق خدمت دی.
(۳) تشدد به نه کوم ځکه چه تشدد د نفرت پیدا کوي او عدم تشدد د محبت او تشدد د لاسه د پښتنو کور
وران دی ولې چه پښتون تشدد همیشه د خپل ورور شره وي. (۴) پرې جنبې، تربګني او دښمني به د خپل
پښتون ورور شره نه کوم. (۵) که پښتون ورور بد راشه وکړي د هغه نه به بدل نه اخلم (۶) د ملک
او قام خدمت به د خدای لپاره کوم د خپل خدمت په عوض کښې به چا نه څه نه غواړم. (۷) په بل تحریک
کښې به نه شاملیږم. (۸) ناجایزه رسمونه او رواجونه به پرېږدم. (خان عبدالغفار خان: خدائي خدمتګار، کابل ۱۹۸۳، ۴۴)
د ۱۹۳۰ ع کال د اپریل د میاشتې په ۲۳ نیټه د پېښور په قصه خوانی کښې د خدائي خدمتګارانو په غونډه باندې
پیرنګیانو ډزې وکړې او باچاخان بندي شو. په دغه وخت کښې د هند نیمه وچه کښې د مسلم لیګ په نامه
ګوند څنګ نه موجود و. د مسلم لیګ غورځنګ پیرنګیانو د کانګرس په ضد پیدا کړی و چه د انګریزانو شره په
جګړه کوت و. نو ځکه باچاخان کانګرس ته لاس ورکړ او د پیرنګیانو په ضد د کانګرس شره په ګډه خپله
مبارزه توخته کړه. په ۱۹۳۶ ع کال کښې باچاخان بیا بندي شو او ۱۹۳۷ ع کال کښې خپلې صوبې
ته راغې په هم دغه کال د دسمبر د میاشتې په دریمه نیټه په لړه پښتونخوا کښې د خدائي خدمتګارو وزارت
(حکومت) جوړ شو. سور پوښو لیډر ډاکټر خان صاحب وزیر شو. په ۱۹۳۹ عیسوی کال کښې د کانګرس د
ټولو صوبائي حکومتو شره د لرې پښتونخوا د خدائي خدمتګارانو حکومت هم استعفی ورکړه. باچاخان د پښتونخوا

ازادو شمیر ته د کښته کې درون ونه) ولیږل او د شر د رباب د مرکز مالیه بنیاد کې کیښود.

**ځلمي پښتون :** په ۱۹۴۴ عیسوی کال کې چه د خدايي خدمتګارو په مقابل کې د مسلم لیګیانو ورانۍ زیاتې شولې نو د خدايي خدمتګارو د حفاظت لپاره د غني خان د باچاخان د زوی په مشرۍ د ځلمي پښتون په نوم یو نوی جماعت جوړ شو او



« په دې کې هغه ځوانان شریک شو چه د چا عقیده په عدم تشدد باندې نه وه. ولې چه هغوی په دې غرض د غه جماعت جوړ کړی و چه خدايي خدمتګار خو تشدد نه کوي. د دوی عقیده عدم تشدد ده نو د دوی خلاف د تشدد استعمال شو نه کیږي نو د دوی اعلان وکړ چه د غه جماعت صرف د خدايي خدمتګارو د حفاظت د پاره دی »

د عبدالغفار: زما ژوند او جدوجهد کابل ۱۹۸۳م

کله چه ۱۹۴۷ ع کال کې دا انګریزانو

( د ځلمي پښتون مشر غني خان )

له هغوی پاکستان جوړیده لو خدايي خدمتګارو په بنو کې د خان امیر خان د صدارت لاندې د جون د میاشتې په یو ویشتمه نیټه جلسه وکړه. د دې جلسې پر اتفاق شوې دا فیصله وکړه چه په دې ملک کې دې د ټولو پښتنو یو ازاد حکومت جوړ شي چه د هغوی اینې په اشتراکي اصولو، جمهوریت د (ډیموکریسۍ) مساوات او اولی الفاظ باندې ایښودل شي. د غه اعلان پښتنو ته داغږ وکړ چه د دې اعلی مقصد د حاصلولو لپاره په یو مرکز راغونډ شي او بې د پښتونخوا د دې بل چا اقتدار ته سر نه ټیټ نه کړي (پښتونخوا) ټوک ۲ ګڼه ۳ اپریل ۱۹۸۸.

باچاخان په ۱۹۴۸ ع کال د جون د میاشتې په پنځلسمه نیټه بنو ته د تللو په وخت کې بهادر خیلو سره نیول شو دی ونیول شو دی کاله بند د تیرولو وروسته بیا دی کاله نظر بند و. د دسمبر د میاشتې په اولسمه نیټه بیا په ۱۹۵۵ کال کې په بلوچستان کې ونیول شو د خوشې کیدو څو ورځې وروسته بیا د ۱۹۵۶ ع کال د جون د میاشتې په اولسمه نیټه ونیول شو او بیا په ۱۹۶۲ عیسوی کال ونیول شو لنډه دا چه باچاخان ټول ټال ۳۷ کاله بند تیر کړي دي نو ځکه ویل کیږي چه د باچاخان اصلي پته (ډاک) جیل و. د هری پور جیل ته چه څوک ورننوزي نو مخکې له هغې څه چه بارکونو ته ولاړ شي یوه کوټه ورته ښیي او ورته وایي د غه کوټه باچاخان خپله چه بندي و خو ته جوړه کړې ده چه اوس لومړۍ درجه (A-class) بندیانو ته ورکول کیږي. کله چه ولیمان د هری پور جیل کې بندي وي په د غه کوټه کې وتیږي.

په ۱۹۶۴ ع کال کې باچاخان د علاج د پاره لندن ته لاړ او بیا پښتونخوا د (پښتونستان) ته راغی بیا په ۱۹۷۲ عیسوی کال کې د دسمبر د میاشتې په ۲۴ نیټه بیرته پښتونخوا ته چه په د غه وخت کې پکې د نیشنل عوامي ګوند او جمعیت علما د اسلام ګډ حکومت و راغی. په ۱۹۸۷ عیسوی کال کې هند ته د علاج لپاره ولاړ، د ۱۹۸۷ عیسوی کال د جولای د میاشتې په څلورمه نیټه ورباندې د فالج حمله وشوه او د هند په طبي انسټیټیوټ کې داخل شو. د ۱۹۸۷ ع کال د اګست د میاشتې په شپاړسمه نیټه د ماغزو په ګډوډو

بچو پښتنو ته راوړی شوی او لیډی ریډنګ روغتون کښی داخل کړای شو. د ۱۹۸۸ عیسوی کال د جنوری د میاشتی په ۲۰ نیټه د چارشنبی په ورځ په پېښور کښی د لیډی ریډنګ روغتون کښی د سحار په شپږو بجی وفات شو.



(د پښتنو د لوی لیډر او لوی مشر ګوند لومړی مرستیال علیخان مسعود باچا خان سره)

د ۱۹۸۸ عیسوی کال د جنوری د میاشتی په یو ویشتمه نیټه ئی د جناح په پارک کښی جنازه وشوه او د خپل وصیت مطابق د ۱۹۸۸ ع کال د جنوری د میاشتی په ۲۲ - نیټه د جمعی په ورځ د ټهار شین بجی د جلوس په بڼه کښی جلال آباد ته یوړی شو او هلته خاوره ته وسپارل شو.
لنډه دا چه:
باچاخان ۱۹۸۸ عیسوی کال د جنوری د میاشتی په شلمه نیټه پېښاور کښی وفات شو او د خپل وصیت سره سم په بره پښتونخوا کښی په جلال آباد کښی خاوره ته وسپارل شو او په دی توګه د لری او بری پښتونخوا په منځ کښی یو والی محکم شو. باچاخان د پښتنو ژوندی تاریخ دی چه تل به ژوندی پاتی وی. کله چه خان لالا (افضل خان) وائی «دا هغه اولنی پښتون دی چه هغه توری په زور نه هغه د شرارت په حیث نه بلکه د پښتنو په حیث ئی مبارزه شروع کړه. هغه لښکری او پښتانه او خلکو ته لکه ورور په شان احترام ورکړ او وئیل چه تاسو کښی ګټه ده وی هغه دی چه کار کوی او څه خاوری ته راوړی او بیا ئی نا ... ئی وکړه.» که سپوږمۍ وی که لمر وی لو شریکه به وی!

## د سور پوښانو دود

زړه ئی ځلمی دی او په فکر کښی مستی لرمه × د لوی ژوند په میوند کښی ماتولی شمه
د خوشحال خان قلم او توره کښی مستی لرمه × د باچاخان د سور پوښانو دود ساتلی شمه

ملا می تړلی د وطن د ازادی لپاره
د پښتنو د ابادی او سوکالئ لپاره

(ستوری)

Sozialdemokratische Organisation
der Paschtunen e.V.
(Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party)
Postfach 10 15 26
5000 Köln 1
West Germany

خپرونکی
او
زمه وار:

د خپرونی او کتنی د جرګی مشر:

M. Scherien
Breslauer str- 21
2160 STADE
W. Germany
Tel: 04141 - 46214

د رشت پښتون د ننګ دعوی نه اتکل
سره یو د ننګ پکار پښه او اشکار
(خوشحال خان بابا)

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنی، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به درې میاشتنۍ خپریدله.

په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .

کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسې وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.

په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.

د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې

درنښت

نصیر ستوری